# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد بدین بوم وبر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

| Literary - Cultural | ادبی ـ فرهنگی |
| --- | --- |

محمد اسحق برکت
ویرجنیا، ۲۱ آگست ۲۰۰۸

### به استقبال پورتال زیبای

### "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان"

دیری نمی گذرد که با کمپیوتر اندکی آشنا و بالوسیله به انترنیت راه یافتم و از آنجا مستقیم به سایتهای افغانی گذر رفت. یکی دو وبسایتی را که سراغ داشتم دق الباب کردم آنجا مطالب خوبی یافتم و مستفید شدم تا اینکه ناگهان چشمم به خبر افتتاح پورتالی به نام "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان" که در افق نشراتی کشورم نو طلوع کرده است ، افتاد. وقتی خوبتر متوجه شدم دریافتم که درست این همان صفحه ایست که من در انتظارش بودم. فردای آن روز آدرس گرفته به سراغ پورتال رفتم و آن مصادف به روزی بود که هشتاد و نهمین سالروز استرداد استقلال کشور را تجلیل می کردیم که به افتخار آن این نشریه هم رسماً آغاز به کار کرده است.
پیش از آنکه به محتوای آن گذر کنم دیزاین و دیکور صفحات و مقبولی عناوین و نوشته هایش مرا بیشتر به خود معطوف گردانید؛ آنرا چندین بار از نظر گذشتاندم و مرا بر آن داشت تا سوغاتی به این پورتال تقدیم نمایم. تحفه و پیشکشی خوب و بهتر ازین شعر که به طبع و مزاج وطنخواهان برابر است، چیز دیگری نیافتم که تقدیم نمایم و آنرا به گردانندکانش تبریک گویم.

### یو افغان یو، یو افغان یو

له واخـــــــــــــانه را نیولي تر نیمروزه تر خیبره
د **آرین** په نــــــــــوم یادیږو د **یما** سکه بچیان یو

### یو افغان یو، یو افغان یو

ننګرهار که کندهاردی، زمونږ هیواد د سترګو تور دی
که لوی شوی یو لوګر کی یا په غور کـــی یا بامیان یو

### یو افغان یو، یو افغان یو

په ګردیز او کلبهار او پکتیکا باندی ویاریـــــــږو
که پراته یو پکتیا کـــــــــی په بادغیس یا سمنګان یو

### یو افغان یو، یو افغان یو

که اچولي مو کیــــــږدی خپله غزنی کی یا مزار کی
که میشته یو په هـــــــــرات کی یا فراه یا هلمندیان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

غلیمانو یو بیل کـــــــړی یو له بله دلته هلته
سره یَو یُو د کابل یا بدخـــــــــــشان که د لغمان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

د بیرحمه بی انصافه د پــــــــــــردو مریانو لاسه
چی پراته یو په کمپو کــی یا بیل چیری فراریان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

پښتانه او تاجکان دی سره ورونه له پخــــــوا نه
که ازبک او که بلوچ هزاره که پنجشیــــــریان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

مذهبی او لسانی تبعیض نه کـــــرکه او نفرت کړو
که هنـــــــــدو که موسوی ، عیسوی که مسلمان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

وطن بڼ دی د ګلانو دغه بڼ په مونـږ سمسور دی
چی یو موتی یو پخپل کی د دی بڼ ښایسته ګلان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

وطن شمعه ده بلیږی تري تاویږو او چـــــتاپیر یو
دا ډیوه دی وی تل بله موږ د هغـــــــــه پتنګان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

یو د بل په غم شریک یو په ښادی کـی هم یو شاني
دا چی دلته یو اخته که په زابل کـــی یا جوزجان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

وطنوالو سره یو شی د وحـــــــــدت لاسونه ورکړی
که نه هسی به بیځایه بی وطنه تل تر تله سرګردان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

هغه څوک پی هلی ځـــــــلی په قلم یا په قدم یا په درهم کړی
د وطن د آزادی په لور روان دی مونږ دهغوی پلویان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو

نه یواځی **"برکت"** پر خــــــــپل وطن باندي مین دی
تاریخ ګواه دی چی مونږ ټول د خپلی خاوري مینیان یو

## یو افغان یو، یو افغان یو